Bundesamt für
Fremdenwesen
und Asyl

# د بهرني پاسپورټ (Alien Passport) لپاره د درخواست کولو لپاره معلوماتي پاڼه

## د اصلي هیواد لخوا صادر شوي پاسپورت او د استوګن اجازه نامه یا د مرستندویه حفاظت کارت سره سفر کول

کولای شئ د یوه سیلاني په توګه د دري میاشتو لپاره د شینجن غړو هیوادونو ته په ازادانه توګه سفر وکړئ، او د اطریش د استوګن اجازه نامه او یا ستاسي د خپل هیواد صادر شوي پاسپورټ څخه کار واخلئ (خو تاسي نشئ کولای چي هلته کار وکړئ). تاسي باید خپل د استوګن اجازه نامه او پاسپورټ دواړه له ځان سره ولرئ. همدا رنګه که د اطریش همسایه هیوادونو او یا د شینجن نورو هیوادونو ته سفر کوئ، همدا شرایط عملي کیږي.

د استوګن اجازه نامه تاسي ته اجازه درکوي چي د شینجن غړو هیوادونو ته سفر وکړئ او په عین حال کي پاسپورټ هم له ځان سره ولري کوم چي ستاسي د اصلي هیواد لخوا صادر شوي دی، پشمول د:

- ➔ د استوګن اجازه نامه، چي د دایمي او موقتي بهرنیو اوسیدونکو د قانون سره سم ورکړ شوي وي (مثلاً د استوګن اجازه نامه، سور-سپین-سور کارت، سور-سپین-سور کارت پلس ...)
- ➔ د استوګن اجازه نامه، چي د پناه غوښتني قانون سره سم ورکړ شوي وي (د استوګني حق لرل، د استوګني پلس حق لرل، د ځانګړي ساتني مستحق استوګن)
- ➔ د مرستندویه حفاظت کارت (تصواری کارت)

### د بهرني پاسپورټ لپاره د درخواست کولو لپاره شرایط

- هغه کسان چي د مرستندویه حفاظت مستحق دي، او د خپل هیواد پاسپورټ نشي ترلاسه کولی
- هغه کسان چي خپل ملک نه لري او یا هغه کسان چي د تابعیت او قانوني استوګني په اړه یوښتني شته چي تر اوسه نه دي ځواب شوي
- په ځینو خاصو حالاتو کي نورو بهرنیو خلکو ته هم ورکول کیږي، په دي شرط چي د پاسپورټ صادرول د اطریش د جمهوریت د خلکو ګټه وي، چي دا خبره باید څرګنده شي.

### کړنلار

- د هویت د تصدیق لپاره د درخواست کوونکي شخصاً حاضریدل، د ماشومانو په ګډون، لازمي دی.
- درخواست داسي کیږي چي د پاسپورټ لپاره درخواست په بشپړه توګه تکمیل شي او له عکسونو سره یو ځای د پاسپورټ دفتر کي مامور ته وسپارل شي.
- د حضوري لیدني په مهال باید ټول اصلي اسناد او یا هم تصدیق شوي کاپي ګاني وسپارل شي.
- د درخواست فورمي او همدا رنګه معلوماتي پاني د پاسپورت دفتر دننه موجود دي.

### غوښتل شوي اسناد

- د درخواست فورمه چي بشپړه شوي او لاسلیک شوي وي (کیدای شي د پاسپورټ دفتر دننه هم بشپړه شي)
- د پاسپورت لپاره یو نوی عکس (پورټریټ بڼه، ۴۵X۳۵ ملیمتر) چي رنګه وي (د اروپایي ټولني عکس)؛ شرایط https://www.bmi.gv.at/607/Passbild_Kriterien.aspx
- د هویت ثبوت او همدا رنګه د استوګني د حق ثبوت:
  - هغه کسان چي له مرستندویه حفاظت څخه ګټه اخلي: د مرستندویه حفاظت کارت او/یا استوګن اجازه نامه
  - هغه کسان چي هیواد نه لري او/یا د تابعیت په اړه یې ناځواب شوي یوښتني دي: استوګن اجازه نامه

- هغه کسان چې د اطریش جمهوریت د خلکو په ګټه هغوی ته بهرنی پاسپورټ ورکړ شوی دی: استوګن اجازه نامه
- د مدني وضعیت تصدیق نامه، که موجود وي (د زیږیدني تصدیق، نکاحنامه، د ګډ ژوند تصدیق نامه) په هغه صورت کې چې نوم بدل کړی وی، د دې اسنادو وړاندي کول حتمي دی.
- د بهرنی پخوانی پاسپورټ، که راجع کیږي (چې هغه په باطل کړی شي) او یا هم د ورکیدلو د راپور تصدیق؛
- په علمي برخه کې شهادتنامه او یا هم د صلاحیت لرونکي انجنیر تصدیق نامه، که راجع کیږي.
- د هغو کسانو لپاره چې له مرستندویه حفاظت څخه ګټه اخلي او ځیني مشخص بهرني پاسپورټونه چې د اطریش جمهوریت د خلکو د ګټو په خاطر صادر شوي دي، یو بل اضافي ثبوت غوښتل کیږي چې هغوی له خپل ملک څخه پاسپورټ نشي ترلاسه کولی، مثلاً د سفارت لخوا تصدیق، البته تر هغه حد پورې چې دا کار معقولاً عملي کیدونکی وي؛
- د بهرني پاسپورټونو لپاره چې د اطریش جمهوریت د خلکو د ګټو په خاطر صادر شوي دي، باید په اضافي توګه دا خبره هم ثابته شي چې ټول شرایط په ښه توګه عملي شوي دي او په هغو برخو کې چې د اطریش جمهوریت د خلکو ګټې خوندي دي.

په انفرادي قضیو کې، د پاسپورټ دفتر چاروا کې کیدای شي د نورو اسنادو غوښتنه هم وکړي، اساساً هغه وخت چې د معلوماتو د سموالي په اړه شک پیدا شي (مثلاً املا/انشاء).

## د دې لپاره چې ثابته کړئ چې خپل پاسپورت نشي ترلاسه کیدلای

بهرنی پاسپورټ د هغو کسانو لپاره چې له مرستندویه حفاظت څخه ګټه اخلي، یوازې د هغو خلکو لپاره ورکول کیږي چې هغوی د خپل هیواد پاسپورت نشي ترلاسه کولی. دا خبره عموماً چې باید ثابته شي (مثلاً د سفارت لخوا تصدیق) په لاندې حالاتو کې ثبوت نه غوښتل کیږي:

- د اصلي هیواد سفارت یا کونسلګري په اطریش کې موجود نه وي او په دې اساس پاسپورت نشي ورکول کیدای؛
- چارواکیو ته دا خبره معلومه وي چې د هغه هیواد سفارت په اطریش کې چا ته پاسپورټ نه ورکوي؛
- هغه خطر چې د هغه پر بنسټ مرستندویه حفاظت ورکړ شوی دی، په خپله په هغه هیواد کې رامنځ ته شوی دی (د هیواد لخوا تر تعقیب لاندې) او یا هم ملک په واقعاً دا وړتیا ولري چې حفاظت ورکړي، په خپل دې کار کې ناکامه شوی دی (د ملک بې علاقګي چې حفاظت ورکړي)

## اضافي اسناد د ماشومانو لپاره

- د درخواست کوونکي والدین یا قانوني استازي د هویت اسناد
- د ساتنې ثبوت، که چیرې د سوابقو سره له سم له خپل والدینو سره نه وي

## لګښت

- د هر درخواست کوونکي لپاره چې عمر یې 12 کاله او یا پورته وي، 75.90 یورو (د صدور فیس) چې باید نغدي ورکړی شي
- د ماشومانو لپاره تر 12 کلنۍ پرې 30.00 یورو
- تر 2 کلنۍ لاندې ماشومانو لپاره لومړی پاسپورټ وړیا ورکول کیږي

پیسې باید نغدي او د پاسپورټ دفتر کې ورکړ شي. د 200 او 500 یورو نوټونه نه منل کیږي.

## د تطبیق وړتیا او اعتبار

بهرنی پاسپورټ د نړۍ د ټولو ملکونو لپاره اعتبار لري، په استثنا د اصلي هیواد څخه.

بهرنی پاسپورټ حد اکثر د استوګن اجازه نامې د مودې تر وخته پورې صادریږي.

**<u>د پاسپورت دفتر د درخواستونو د منلو لپاره د خلکو پرمخ پرانیستي دي</u>**

له دوشنبې تر جمعې (د رخصتۍ ورځو بغیر): د سهار له 8 بجو د غرمې تر 12 بجو.

**<u>د خلکو پرمخ پرانیستی ساعتونو د پراخوالي په وجه، دا ضروري نه ده چې د پیل له ساعتونو نه وړاندې دفتر ته راشئ.</u>**